خوشحال آصفي
۲۸/۰۱/۲۰۱۶

پلازمينه او امنيت يي

د هيواد په پلازمينه کابل ښار کي ۱۷ امنيتي حوزي او نور امنيتي قطعات د ښار د امنيت د ټينګښت په موخه ځای پر ځای شوي دي او په ځوارلسګونو ولسوالیو کي هره ولسوالی د جلا امنيه قوماندانی درلودنکی ده چې په تولیزه توګه دغه د کابل د امنيه قوماندانی تر اغيز لاندې دي چې د امنيت د ټينګښت او د قانون د تنفذ د پاره په محلاتو کي په دنده بوخت دی. هره امنيتي حوزه مسوليت لري تر څو په خپله ساحه کي امنيت ټينګ کړي او د وژنې ، غلا او د نورو جنايي جرمونو د پيښيدو مخنيوی وکړي او يا هم د جرمونو د پيښيدو په صورت د قضيي عاملين ونيسي.
د هيواد پلازمينه چې د لرې پرتو سيمو افغانان د ښه او امن ژوند په هيله دغه ښار ته را کډه کيږي؛ د هري ورځې په تېرېدلو سره يي وګړي ډېريږي. خو له بده مرغه اوس مهال د کابل په ښار کي د جرمونو کچه تر پخوا لوړه شوې ده او هره ورځ په لسګونو جرايم د کوڅه ډبو او بې بندو بارو کسانو لخوا ترسره کيږي چې تر شا يې زور واکان لاس لري. د وسله والو غلاوو زياتيدل، چاودنې، ځانمرګي بريدونه، د موټرو تښتول، د کورونو لوټل، لار شکونې، د مبايل ټلېفونونو غلا کول، د وسله والو مخالفانو هدفي وژنې او په ښار کي د زورورو او نامعلومو کسانو تګ راتګ هغه موارد دي چې په دې وروستيو کي په پلازمينه کي زيات شوي. هاخوا بيا کابل ښاريان پوليس د امنييت په ټينګولو کي په بې غورۍ تورنوي او وايي، چې د شپې د ګزمې يا د موټرو د تلاشی او د ښار امنيتي وضعيت د ځارلو په ځای په شخصي معاملو بوخت وي.

په دې وروستيو کي د موټرو غلا په کابل ښار کي زور اخيستی دی. په ډيری ځايونو کي پوليس خپلې دندې په سمه توګه سر ته نه رسوي. د راپورونو له مخې په دې وروستيو کي په کابل ښار د موټرو غلا زياته شوې ده، چې په تېرو يوولسو مياشتو کي تر ۴۰۰ ډېر نقليه وسايط غلا شوي، خو د کابل ښار امنيتي چارواکي بيا وايي چې ډېری نقليه وسايط له تښتوونکو سره بېرته نيول شوي دي او د غلو پر ضد يي کوټلي ګامونه اخيستي دي. د کابل ښاريان بيا شکايت کوي چې امنيتي مسوولين د غلو د نيولو لپاره ګامونه نه پورته کوي، که غله ونيول شي نو، د پوليسو له لوري ببرته خوشي کېږي، پوليس ورسره لاس لري، ځکه نو غلاوي ورځ له بلې زور اخلي. دلته اوس پوښتنه دا پيدا کيږي؛ په داسي حال کي چې د کابل په ښار کي ۱۷ امنيتي حوزي او نور امنيتي قطعات د ښار د امنيت د ټينګښت په موخه ځای پر ځای شوي دي، ځای پر ځای ا منيتي کمربندونه شتون لري نو د کابل په زړه کي ولې غلاوي او نور جنايي جرمونه ترسره شي؟

ځواب يي په غالب ګمان دا دی چې امنيتي مسوولين غفلت کوي او غله پرته له کومې وېرې خپل کار پر مخ وړي. د دې تر څنګ د امنيتي چارواکو په تشکيل او ګمارنه کي هم ځيني نيمګړتياوي شته. د کابل ښار په مهمو امنيتي ځوکيو د نامسلکي او واسطه لرونکو کسانو ګومارل، د کابل په مختلفو سيمو کي د ګزمې او د موټرو د تلاشي لپاره د څلورويشت ساعته پروګرام نشتوالی، نوري هغه ستونزې دي چې د ښار د امنيت په خرابوالي کي يي مرسته کړي ده. نارسمي شمېرنې ښيي، چې هره اونۍ په کابل ښار کي په لسګونو موټر غلا کيږي، په لسګونو کورونه، موبايل او خلک لوټل کيږي، چې ان د کابل پوليس دا ډول ډېرو پېښو غور هم نه کوي.

اوس افغان دولت ته په کار دي چې ژر تر ژره د دې ستونزې غم وخوري، که نه نو نا امني به نوره هم پراخه شي. هره امنيتي حوزه بايد په اونۍ کي او يا په مياشت کي يو ځل د خپلې ساحې د امنيت د ټينګښت او د ستونزو د حل په خاطر د سيمې د لويانو او مشرانوسره غونډې جوړې کړي. که يو غل، ډاکو او يا بل مجرم نيول کيږي بايد د نورو تحقيقاتو لپاره سمدستي څارنوالۍ ته معرفي شي. په مهمو امنيتي ځوکيو بايد وړ مسلکي کسان وګمارل شي او د ښار د امنيت د لا ټينګښت په موخه بايد د موټرو د تلاشی لپاره څلريشت ساعته پروګرامونه جوړ شي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ